## د پښتنو پیاوړی ادیب

# عبدالقادر خان خټک

**پېژندنه** :

عبدالقادر خان د خوشحال خان زوی د شهباز خان لمسی د یحیی خان کړوسی د ملک اکوړی کوسی دئ، د پښتو ژبې یو پیاوړي شاعر او نامتو لیکونکی او ویونکی دئ، چې د خټکو د مشرانو د لوړي کورنۍ څخه راوتلی او پښتو ژبې ته ئې ښه او لوړ لوړ خدمتونه کړیدي.

عبدالقادر خان د پښتو د پلار خوشحال خان یو مشهور او نومیالی زوی دئ چې پخپله کورنۍ او اولس کښې ئې د خانۍ او مشرتوب ښه مقام درلود. د عبدالقادر خان د تولد او وفات کلونه موږ ته نه دي ښکاره دده د پلار خوشحال خان له ویناوو څخه څرګندیږي، چې دی د خپل پلار په ژوندون ورسره یو ځای (۱) او هر کله پلار له ده څخه خوښ و (۲).

## د ده عمر :

عبدالقادر خان د خوشحال خان د مړيني پـه کـال ( ۱۱۰۰ هـ = ۱۶۹۱ ع) هم ژوندئ وُ او د خپل پلار پـر مـرګ ئـې مرثيـه ويلـې او ژړا ئـې کړيده، مګر د دغي مرثيې څخه ښکاره ده چـي دی د پـلار پـر مـرګ حاضر نه وُ. لکه چي وايي :

په ارمان د ملاقات له موږ ولاړی
زموږ ستا د ليدو ژمنه په عقبا ده (۳)

تر (۱۱۱۴ ه) کاله پوري عبدالقادر يقيناً ژوندئ وُ، ځکه په دغـه کـال ده يوه بدله ويلې ده چي دا بيت له هغې څخه دئ :

سن زر سل د جدايي ځورلس دپاسه
دا غزل مي په بياض باندي رقم کړ (۴)

په (۱۱۱۲ ه) کال کښي ده د خپل کتاب يوسف او زليخا نظم پای تـه رسولی دئ. ددې کتاب په پای کښي خپل زوی ته نصيحت کـوي او د سپين ږيرتوب حال بيانوي چي وېښته مي سپين او زوړ سوم :

پـه سـن راغلـم تـر پنځوسـه
پـه غفلـت کښـي يـم تـر اوسـه
وېښته سپين خاطر مي تور سو
بـد خصـلت مـي کلـه نـور سو
د ځوانـی بهـارمي خپـور سـو
رنــګ دبـاغ دګلـو نـور سـو
پژمـرده د ځوانـــی بـــاغ ســو
د هـر ګـل فـراق مـي داغ سـو

له دې شمېره که مـوږ استنباط وکړو، نـو چـي پـه (۱۱۱۲) کـال عبدالقادر خان د (۵۰) کالو ؤ البته د ده د تولد کـال بـه (۱۰۶۲ هـ) وي، چې د خپل پلار پر (۴۰) کال زوکړی دئ.

د عبدالقادر خان د عمر د پای ورځې نه دي ښکاره، مگـر د ده لـه کلامه موږ لاندینی استنباط کـولای سـو، دی د یـوې بـدلي پـه پـای کښي وایي :

هر کاره به بهادر شاه چیری خبر کا
حال عبدالقادره مه وایه سپرلی (۵)

له دغه بیته اوځاربږي چي دی د بهادرشاه په عصر کښي ژونـدی ؤ، بهادر شاه معظم د اورنگزیب عالمگیر مشر زوی ؤ، چي د پلار تر مـړیني وروسته په (۱۱۱۸ ه) کښي پاچا سوئ او په (۱۱۲۳ ه) کښي وفات سویدئ.

نو تر (۱۱۱۸ ه) پوري د عبدالقادر خـان ژونـدون یقینـي او وروسـته ښکاره نه دئ، تردې زیات کوم تحقیق د ده د عمر پـه خصـوص کښـي دده له کلامه نه کیږي، او نه چا ضبط کړئ دئ.

## د وطن بیلتون :

د خوشحال خان د کورنۍ سړو، اکثرو د وطن خواهـۍ او آزادۍ غوښتلو په جرم، د وطن بیلتون گاللئ او د مغولو پاچهانو سره د خپلـي خپلواکۍ د ساتني په میړانه جگړدلی دئ، نو ځکه ډېر له دوی څخـه د مغولو له خوا له خپلي مېني څخه بېل سوئ، او د هند په مختلفو ځایو کښي یا بندیان یا نفي وه.

عبدالقادر خان هم په دغه ډله کښي د عمر ډېره برخه د هندوسـتان په ښارو کښي تېره کړې او دخپله گرانـه وطنـه بېـل ؤ، لـه کلامـه ئـې ښکاره کېږي چي په هندي ژبو هم څه نه څه پوهېدئ، او د هندوستان

په دنیا کښي هر کله د خپل وطن په بوی غوړېدی او د ده مړاوي زړه چي د بېلتون اور سوی ؤ د وطن نری نسیم پر وجد او نشاط او نخا راوستی :

باد ئې بوی عبدالقادره سحر راوړ
شگفته لکه غنچه په دغه باد سوم

یا :

د اشنا له لوریه خط رالره راغلئ
بیا مي اور په زړه تازه د اشتیاق سه

عبدالقادر خان زموږ پښتون ښاغلی ادیب د هندوستان په نا اشنا دنیا کښي فقط درې ملگري درلوده :

چي پرې غم غلطوم درې مي محرم دي
یو قلم، دوهم کتاب، دریم اشعار خپل

پښتون ادیب خو پخپله خوږه ژبه شعرونه ویل، او د پښتو ادبیاتو ته ئې رونق ورکاوه، مگر افسوس چي د بېلتانه په مځکه کښي څوک د ده په ژبه نه پوهېده، او پښتون ملگری ئې غوښتی :

د سخن خوبي همه لرم موجوده
زه عبدالقادر محتاج د سخندان یم

د وطن میني او شوق هر کله د ده خوږمن زړه ور ناقراره کاوه دی تل د مېني د لیدو لېوال ؤ، او له لېري ئې د زړه له کومي سلامونه د وطن پر یارانو نثارول :

گندي وي چي سره بیا په یوه ځای سو
په هغو زموږ سلام چي په وطن دي

**معاصرين :**

عبدالقادر خان په هغه مځکه کښي زوکړی او د خټکو په هغه ادبستان کښي لوی سوئ وُ، چي د ده شاوخوا خپلوان ټوله اديبان او شاعران وه، دده پلار خود پښتو شعر پلار دئ، ورونه ئې لکه : اشرف خان هجری، اوصدر خان او گوهر خان او اسکندرخان او نور ورېرونه اود کورنۍ سړي ئې لکه : افضل خان اوکاظم خان شيدا، او علي خان ټوله د پښتو ژبي نوميالي شاعران او ويونکي دي چي دا ټوله د عبدالقادرخان معاصرين او خپلوان يا د خوشحال خان د ادبي مکتب فيض ميندونکی وه، او عبدالقادر خان په دغه ادبي کورنۍ کښي روزل سويدی، علاوه پر دغه په هغه وخت کښي شاوخوا نور پښتانه اديبان هم وه، چي يو له معاصرينو څخه د عبدالقادرخان مرحوم عبدالرحمن بابا وُ، د رحمان بابا ادبي شهرت تر خوشحال خان لږ نه دئ، دی هم د مغولي اورنگزېب په عصر کښي ژوندی وُ (۶).

عبدالقادر خان دده سره شعري او ادبي مسابقي لري، د يوې بدلي په پای کښي د رحمن بابا په ځواب کښي وايي :

زه خټک د يار په غم تازه تازه سوم
غوريه خېل رحمان که سو ورځني سترې (۷)

بل د عبدالقادر خان له روحاني لارښوونکو او معاصرينو څخه شيخ سعدي لاهوري (رح) د شيخ آدم بنوري (رح) شاگرد دئ، چي دده مرشد وُ، او ما اورېدلي دي چي په طريقه کښي ئې عبدالقادر خان خليفه وُ، ددې کتاب په (۲۲۶) مخ کښي عبدالقادر خان د خپل مرشد د وفات تاريخ په (۱۱۰۶ هـ) ويلی دئ.

په دغه ډول نو عبدالقادر خان په طريقت کښي په درې مرتبې و حضرت مجدد (رح) ته رسيږي، چي شيخ بنوري (رح) ئې شاگرد وُ.

نور ددې پردېس ادیب ژوندون اکثر په پردېسي او بېلتون کښي تېر سویدئ، ځکه نو دده سوانح هم ښه ښکاره او څرگند نه دئ.

## د خوشحال خان په ادبي مکتب کښي د عبدالقادر خان مقام :

د پښتو ژبي د شاعرۍ او ادب په تاریخ کښي خوشحال خان د هغه مکتب مؤسس او سته ایښوونکی دئ، چي موږ ئې دده په نوم نومړی کوو، د پښتنو د ادبیاتو له پلټني څخه موږ ته ښکاره کېږي چي ددې ژبي د لیک او لوست او شعر او ادب څو مختلف مکتبونه دي، چي د هر مکتب ډول او د لیک او ویلو طرز او سبک هم ظاهراً هم معناً بېل وُ، لاندي ئې لنډ بحث ولولئ :

**اول** : د پښتو د لیک او ادب لومړی مکتب زما په عقیده د اخند درویزه ننگرهاری مکتب دئ، که څه هم اخند صاحب پخپله ددې مکتب مؤسس نه دئ، او تر ده دمخه څه سابقین لري (۸) مگر هغه لوی خدمت چي ده دې سبک ته کړی دئ، نو حق لري چي دده په نوم یاد سي، ددې مکتب سبک داسي وُ :

الف : نثر د نظم په ډول او لحاظ د قافیې په نثر کښي، مگر د علم عروض رعایت لږ وُ، یا نه وُ.

ب : مضمون د شعر اکثر دیني او تبلیغي یا روحاني اوعرفاني وُ، چي څه نه څه د تصوف روح په گډ وُ، او له اسلامي علومو څخه لکه: فقه، تفسیر، حدیث استنباط کېدئ، او ډېرځله رد د ځینو ملحدینو وُ، چي په هغه وخت کښي د تاریک پیر (پیر روښان) د افراطي تصوف تر جنډۍ لاندي راوتلي، او د خیرالبیان (۹) په کتاب ئې عمل کاوه، د

اخوند درویزه د سبک ملګري اخوندقاسم، د فوائد الشریعه خاوند، پاپخېل شنواری (۱۰) او بابوجان چي تور کافر ؤ او مسلمان سوی ؤ (۱۱) او نور د مرحوم اخوند زامن او کورنۍ وه، د تاریک پیر ملګري میرزا خان انصاری (۱۲) او نور وه.

**دوهم** : مشهور مکتب د خوشحال خان خټک دی، چي دوی عروضي شعر په پښتنو کښي ډېر کړئ دئ، د خوشحال خان د مکتب شاګردان ټوله ساده ویونکي دي، کلام ئې ګرانښت اوتعقید نه لري، او د خپلو معاصرینو پارسي شاعرانو سره ښنګ په ښنګ ځي، دا مکتب بېله د خوشحال خان دکورنۍ نور ډېر ملګري لري، لکه : رحمان بابا، ارزاني، خویشکي، واصل، عبدالعظیم، قاسم علي افریدی، عبدالرحیم هوتک، شمس الدین کاکړ، پیرمحمد کاکړ او نور ... (۱۳)

د دوي کلام له عشق، او اخلاقو او څه نه څه له تصوف او عرفانه ډک دئ، د عروض او قافیې او د فصاحت او بلاغت د اصولو بشپړ مراعات کوي.

**دریم** : مکتب د حمید مهمند سربني ماشوخېل دئ، چي دی هم د مغولو په عصر کښي ژوندی ؤ، په ۱۱۳۷ ه کال ئې شاه ګدای لیکلئ دئ (۱۴)، د حمید د مکتب شاګردان یا ملګري : کاظم شیدا، د خوشحال خان کړوسی، د اشرف خان لمسی د افضل خان زوی دئ، او په قندهار کښي میرزا حنان (۱۵) دده د مکتب او سبک پیرو دئ، نورو پښتنو شاعرانو هم دده د سبک اثر قبول کړی دئ، مګر لږ لږ.

د ماشوخېل حمید بابا د شعر سبک ظاهراً هغه عروضي شعر دئ، مګر د پارسي شعر له هندي سبک سره ډېر نژدېوالی لري، ده ته موږ د پښتو بیدل یا صائب ویلای سو، دی په تشبیه او استعاره او تلازم کښي پوره نازکخیال دئ، او لکه بیدل دغسي نادر تشبیهونه او تلازمات لري،

لکه په پارسي ادب کښي چي هندی سبک د بخارا او ایران له سبک څخه بېل دئ، په پښتو کښي هم د حمید سبک له نورو څخه امتیاز لري. ځکه نو پښتانه شاعران دی موشګاف حمید بولي. (۱۶).

اوس چي تاسو ته لنډ د پښتو ادب د مشهورو مکتبو بحث وسو، نو به وګورو چي عبدالقادر خان په خپل ادبي مکتب کښي کوم مقام لري؟ او د نورو څخه ئې څه اخیستي دي، او دده د کلام ښېګڼی او خصوصي مزایا څه دي؟

د خوشحال په کورنی کښي دده دوه زامن په ادب او شعر کښي تر نورو ډېر لوړ راوتلي دي، چي کله کله د وینا په ښېګڼو کښی له پلاره سره سیالي نه بلکی تر ده لوړتوب هم کوي.

دا دوه د ادب ښکلي ګلان او د پښتو د شعر د بڼ خوشنوا خاچونی (بلبلان) اشرف خان هجری او عبدالقادر خان دي، د هجری د یو څو بدلو څخه چي مستر راورټی نشر کړیدي داسي ښکاره کیږي چي د شعر په فن کښي لوی لاس لري، او دده کلام متین او خوږ او ساده او برجسته دئ، که ما دده دېوان لیدلئ وای نو به مي دده کلام د عبدالقادر خان سره پرتله کړئ وای، افسوس چي د پښتو ادب دا نایاب اثر ورک دئ، او فقط د څو تنو خارجی قدر دانانو په لاس کښېوتلئ دئ، خوښ یو چي د عبدالقادرخان مرغلری تر خاورو نه دي لاندي سوي، او موږ ئې اوس پښتنو ته وړاندي کوو.

زما په عقیده د خوشحال خان په مکتب کښي عبدالقادر خان تر ټولو لومړی دئ دده د کلامْ مزایا دادي :

## د عبدالقادر خان د وينا ښېګړې :

(۱) د عبدالقادر خان کلام ساده دئ، له تعقيد او درونـدوالي څخـه تش دئ، د هر راز تخيل پر اداء مقتـدر دئ، ګـران مضـامين پـه سـاده ډول ويلای سي، په خوږوالي او سلاست کښي مثيل نه لري، تمثـيلات ئې طبعي او مثبت دي، په تخيل کښي ډېر و ماوراء الطبيعه ته پرواز نـه کوي، د حس او تعقل تر دائرې نه وزي، دا هغه د سهل ممتنع مزيـت دئ چي د خوشحال خان له کلامه څخه ده اخيستئ او ډېر ئې پـوخ او رنګـين کـړئ دئ، ددې بـدلي متانـت او سلاسـت او طبيعـي سـبک وګورئ :

پـه ويـل د کـوم بـې رحـم ځيګـر ورځـي
چـي دا هسـي ډېـر پـس راسـي بيـا ژر ځـي
د عاشـق د سـترګو غـر نـه حجابيـږي
ولـی هسـي شـان مـخ نغښتـئ پـه مېـزر ځـي
د لوئـی پـه مقـام بـه هالـه کښينـي
کـه د ورکـړي د مـړاني پـه وزر ځـي
د هوسـيو سـترګي تـوري د بـاز سـرې دي
خـونرېزی تـر نـورو سـترګو کـالا زر ځـي
تصـديع مـه کـړه کشـتن ګـاه وتـه پـر سـر ځـي
کـه پـه وژلـو د بيـدل عبـدالقادر ځـي

## حقيقت او ابتکار :

(۲) د عبدالقادر خان په کلام کښي ډېر ځله ابتکار او د تخيل بداعت ليدل کيږي چي د نورو په کلام کښي لږ دي.

په شعر او شاعري کښي خـو نـوی موضـوع مينـدل، او نـوی فکـر ايجادول ډېر مهم دئ، د استادی معيار، او د کـلام د پوخـوالي نخښـه خو هم دغه ده، زموږ عبدالقادر خان په دې خوا کښي هم ډېـر بـډای دئ، دلته به ئې د يوه لنډ مثال په ليکنه اکتفاء وکړو :

شعراء ډېر په تلاښ کښي دي، چې د محبوب و مخې ته د تقديم وړ متاع ومومي، هر څوک غواړي چې نوی تحفـه تقـديم کـړي، پـه دې تلاښ شعراوْ ډېر نوی متاعونه ميندلي او ښتی مضـمون آفرينـی ئـې کړي ، ځان او زړه خو هغه لمړنی متاعونه دي چې په دې محضر کښي وړاندي کيږي يو شاعر د يار په کوڅه کښي زړه په لاس گرزېدئ مگـر د تقديم موقع ئې نه مېندلئ، له پرېشانئ څخه زړه ځنی ورک سو :

دل بدستم بود می گشتم بگرد کوی دوست
از پریشانی نمیدانم کجا انداختم؟

د بل بېچاره څخه هم د بېلتون په تياره کښي، هغه متاع ورک دئ چي ده به يار ته وړاندي کاوه نو ناري وهي :

در شبستان دل زکفم گم گردید
ای چراغت بکف ا زرنگ حنا زود بیا

(واقف)

خواجه حافظ شيرازی هم تر ځان بله گرانبها متاع نهويني، چي د يار په پښو کښي ئې نثار کړي، مگر افسوس چي دا متاع هم په هغه لوړ حضور کښي دومره قيمت نه لري :

نثار خاک رهت نقد جانمن هر چند
که نیست نقد روان را بر تو مقداری

سر بازی هم د مينی سره تړلې ده، که څه هم هر مين سر نه بايلي، او په دې ميدان کښي نه دريږي :

به خاکپای عزیز تر سرنگردانم
دگر ز دست فراقت بسر بگردانی
(حافظ)

سعدی په دې لار کښې یو پل دمخه ږدي سر و ځان هم د تقدیم وړ نه ګڼي :

من چه در پای تو ریزم که پسند تو بود؟
سر و جان را نتوان گفت که مقداری هست

په دې ډول شاعرانو ډېر فکرونه کړي، او د تخیل اسان ئې په دې ډګر ځغلولي دي، د سر و ځان متاع ئې دونه واره وړاندي کړي دي چې اوس بالکل فرسوده او زوړ دئ، زما په عقیده خو دغه تحفه په مینه کښې یو غیر طبیعي تحفه ده، ځکه چې د ذات حب او د ځان ګرانښت په انسانانو کښې یو فطري کشش او جذبه ده، او دغه غریزه په انسان کښې مختلف ډولونه او تظاهرات لري، عشق خو د فنا مقام ته نه وي رسېدلئ ټوله ددغه فطرت ، مختلف اشکال دي، خو وصل او فنا نه وي مینده سوې، نو د بېلتون او فراق پر دنیا د حب ذات په دائره کښې سربازي هم شاعرانه بلند پروازي او مافوق الطبیعه تخیل دئ، ځکه چې ځان وي، حب ئې سته، چې حب د شي وي، نو ئې قربانول او واری کول هم نه وي.

(د فنا او وصال مقام بېل دئ، زموږ شعراؤ خو تل د بېلتون له ویري نارې او کوکاري وهي) نو که وویل سي چې د شاعرانو جانبازي او سر بایلنه کورټ یوه شاعرانه دعوی ده بې ځایه به نه وي له دغه جهته که یو ویونکی او شاعر د تخیل په دنیا کښې یو داسي متاع ومومي چي د هغه وړاندي کول د مین مخې ته دده مقدور، او په عین حال کښې فطري او طبیعي وي، نو دا به د شاعری د تخیل کمال او

حقيقت او لوړتوب وي : ژړا د انسان له طبيعـي مظـاهرو څخـه ده چي د نفسياتو د مخصوصو عواملو نتيجه ده، عبدالقادر خان غوښته چي د خپل مين حضور ته داسي تحفه وړاندي کړي چي چا نـه وي تقـديم کړې، دده شاعرانه بديع تخيل او د ابتکار طبعيت وګرزېـدئ د خپلـي ژړا او سرو اوښکو له طبعي بهېدو څخه ئې کار واخيسـت، پـه لمـن کښي ئې د اوښکو سره غمي سره ټول کړه ولاړ په احتـرام ئـې د مـين مخې ته وړاندي کړه او وې ويل :

سرې سرې اوښکي دي پر مخ عبدالقادره !
و خپل يار ته د ياقوتو مهماني ده

(ص ٨٥)

وګورئ په څه سلاست او سادګي يو نوى او بديع تخيل، د الفـاظو په قالب کښي نوى سوى دئ ! چي د طبيعت په لمن کښـي يـو ابتکـار دئ، او د شاعرى په دنيا کښي د ياقتو مهمـاني يـوه نـوې مبلمسـتيا ده چي تر اوسه څوک بې عبدالقادر خانه د مين پر داسي مبلمستيا نـه دئ موفق سوئ !

## اجتماعي افکار او اخلاق :

(٣) عبدالقادرخان د اجتماعي ژوندون د ښېګړو په بيـان کښـي ډېـر مقتدر دئ هغه اخلاق چي په ټولني ژوند کښي سـړى ورتـه اړ دئ، پـه صراحت سره ئې ښئي، او له هري خوا هغه ښېګړى بيـانوى، چـي پـه ژوندون کښي برى او ظفر پوري موقوف دئ.

زيار او مښود د انسان د برى يو لوى عامل دئ پوهـانو او اديبـانو پـه ډول ډول د کوښښ تاکيد کړئ دئ، حضرت جامي وايي :

هر چند فلک گرم عداوت گردد
دوری برسد که رنج راحت گردد
رو قطره چند از عرق سعی بریز
شاید عسرت بدل بعشرت گردد

**صائب وايي :**

اینکه روزی بی تردد میرسد افسانه ایست
پنجهٔ کوشش کلید رزق را دندانه ایست

**عبدالقادرخان په یوه ښکاره او بدیهی مثال دا مسئله داسي ثابتوي :**

ژرنده هاله څه حاصل کاندي چي گرزی
یو زمان قراری مکړه له طلبه !

**(ص ۱۶)**

**د اجتماع په دنیا کښي، سعادت د هغه ملت نصیب دئ، چي یو د بله ئې افراد، ضرر نه سره رسوي، بې دغه اساسه د اجتماع وجود هم مشکل دئ، ژان ژاک روسو او نور اجتماعي پوهان، د اجتماعي تړون** Social Contract **ستنه هم پر دغه ایږدي چي "تر هغه ځایه آزاد ئې، چي بل چاته مضر نه سې" عبدالقادر په دې لاندیني بیت کښي دا اجتماعي روا داری او پېرزوینه تر دې اندازې غواړي، چي د خپلي گټي دپاره هیڅکله د چا بدي او تاوان نه غواړي، لکه چي وايي :**

چي سبب ئې د دوږخ زما کښتن وي
بیا دي نه مومم دا هسي شهادت

**(ص ۱۹)**

**په دې بیت کښي هم دا د اجتماع اساس او د اسلام مهم تعلیم داسي تصویر سویدئ :**

په دا دوه حرفه اداء مسلماني ده
هر چي نه پسندې په ځان په چا مه پسنده
(ص ۲۶)

عبدالقادرخان یوازې د روغې د میدان مېړه نه دئ، بلکې دی د خپل پلار په ډول یو توریالی ادیب دئ، چي په ډېرو جګړو کښي ئې د پلاره سره ملګري کړېده، دی په دنیا کښي د حیات فلسفه او د برې لار هم د توري زور بولي، په نوې دنیا کښي هم د فرانسې مشهور اجتماعي مېړه روسو Rousseou او د ارتقا د نظرېې د خاوند ډاروین فلسفه پر دغه ولاړه ده، چي د ژوندون حق قوي لري، او ضعیف مضمحل کېږي، د انګریزي ژبې یو بلیغ متل دئ : Might is Right یعني "قوت حق دئ". دا فکر د اوسنۍ دنیا د سیاست او اخلاقو او اجتماع سته ده، عبدالقادرخان دا د احیات فلسفه او د برې لار داسي ښئي :

چي د توري مخ ئې سور کړ په میدان کښي
هغهغه سرخ رویي یوسي له نبرده
(ص ۲۵)

عبدالقادر خان په ژوندون کښي د لوړ همت او د پښتنوالي د ننګي تر دې حده پوري پر خوا دئ :

مرګ له تندي په مذهب زما بهتر دئ
نه ژوندون د دون همتو په اوبو
(ص ۷۳)

یا دا :

سخت دئ د نېمګړو طبیبانو ناز تر مرګه
مرګ ته غاړي کښېږده دارو مه کوه بیماره
(ص ۳۱)

## سياست او مشرتوب :

عبدالقادرخان د قام د خاني لوړ مقام ليدلئ، او د داسي پلار په لمن کښې پاللی سوئ دئ، چي د خپل عصر يو آزادي خواه مشر ؤ، نو دی په سياست او مشرتوب په اصولو هم ښه پوهيږي، او هر کله د مغولو د حاکمانو پر ظالمانه سياست سخت تنقيدونه کوي (۱۷) :

د عبدالقادر خان په نظر کښې مشرتوب او پاچهي صرف د قوم خدمت او د اولس لپاره زيا راو د ښېګړو مښود دئ :

ځوانمرد هغه دئ چي لکه شمع
د ځان په سولو مجلس کا جمع
د بل دپاره که په خـــندا وي
په مخ ئې درومي باران د دمع

(ص ۱۶۰)

په دې رباعي کښې د مشرتوب او قيادت بديع تصوير وګورئ، چي د مشر فرائض او وظائف ئې څنګه په صراحت ويلي دي، نو دده په نظر کښې حقيقي د قوم خواخوږي او مېړه هغه دئ، چي خپل ټوله مفاد او ګټه تر قوم قربان کړي او ځان هم په دغه لار کښې بايلي !

عبدالقادر خان په اجتماع کښې د ظلم بد نتائج په داسي اوڅارو مثالونو ښه راښئي :

چي مي اوس کړي په مظلومو رډي رډي
غافل مه سه د ديو سترګو د وتلو

(ص ۷۴)

بل ځای تر دې لا ښه او څرګند وايي :

د ظالم د سر د تاج لالونه نه دي
چي د تندي ئې له دوزخه اخګرو وری (ص ۱۳۳)

**د خانۍ او مشرتوب اصول د عبدالقادر خان په نظر کښي دا دي :**

د هر خان چي نه ډوډۍ وي نه توره
ښه ځواب ئې دربان وکا چي خان نسته

**(ص ۹۲)**

**د قدرت پـر وخـت زړه د چـا زهيـرول هـم د ميـړه کـار نـه دئ، عبدالقادر خان ددې نتائج داسي وايي :**

چي د زړه تر کمر پرېوزی رېز مرېز سي
خدای دي پرې نه باسي څوک له دې کمره

**(ص ۹۴)**

**په پښتنواله کښي ميړه او ښاغلی هغه څوک دئ، چي د قـدرت پـر وخت عفو او بخښنه ولري :**

چي غليم ئې تښتېده له ځوانمردۍ
دی ئې عفو په هنګام د دسترس کړه

**(ص ۱۰۱)**

**ښندنه او سخاوت هم د مشرتوب يو لوی رکن دئ :**

د لويۍ په مقام به هاله کښېني
که د ورکړي د مړاني په وزر ځی

**(ص ۱۱۸)**

**دا وه د عبدالقادرخان ځيني اجتماعي او اخلاقي افکـار چـي مـوږ لنډ وليکل، دده په ديوان کښي ډېر اجتماعی او اخلاقي درسـونه سـته، چي ويونکي به ئې پخپله هم ومومي.**

***تصوف* :**

**عبدالقادر خان د تصوف او عرفان په خوا کښي نه يوازی علمـاً لاس لري، بلکی دی عملاً هم په دغـه پاکـه دنيـا کښـي ننـوتلی دئ، يعنــی**

یوازي عالم نه دئ بلکـي سـالك هـم دئ ، ده پـه عرفـان او تصـوف او طریقت کښي د شیخ سعدی (رح) لاهوري لاس نیـوی کـړئ (۱۸)، او د حضرت مجدد (رح) له کانونه ئې ډېر روحاني او عرفاني فیـوض لاس ته راوړي دي چي موږ به لاندي لنډه اشاره ورته وکړو :

## د جمال ننداره !

عارف د عرفان او پېژندګلوی په مقاماتو کښي دونه لوړېږي، چي په پای کښي د قدرت د جمال نندارې شاوخوا په هر څه کښـي وینـي، او د هغه ازلي نور برېښ او ځلندتوب لـه هـري ذرې څخـه ورتـه راوزي، ځکه نو عرفا ټوله جهان ته د میني په سترګه ګوري ولي چي ټوله نـړۍ د هغه جمال مظهر ګني چي د هري ذرې زړه ئـې پـه رونـا روڼ دئ، شیخ اوحدی مراغی وایي :

خلقی نشان دوست طلب میکنند و باز
از دوست غافل اندبچندین نشان که هست

شیخ سعدی د شېراز دا عرفاني لویه مسئله داسي بیانوي :

ګویند نظر به خوبرویان
نهی است نه این نظر که ماراست

در روی تو سر صنع بیچون
چون آب در آبګینه پیداست

چشم چپ خویشتن بر آرم
تا دیده نه بیندت بجز راست

عبدالقادر خان هم دا مسئله چي د عرفان هسک مقام دئ، او هـر څوک په آساني نه سي ور رسېدلای په داسي سلاست او صراحت وایـي چي دده عرفاني لوړ مقام ځیني څرګندېږي :

دلبـر مـخ راتـه ښئـي پـه هـر آئـين کـي
گه په تور کښي جلوه گر سي گه په سپين کښي
گـه پـه زلفـو کښـي ځـای وکـا زړه راکـاږي
گـه پـه سترگو پـه رخسـار او پـه جبـين کښـي
کلـه کلـه پـه ترسـا کښـي مـخ ځرگنـد کـا
د صنعان په دودئې وران کاندي په دين کښي
پـه ځـراغ کښـي تجـلا وکـا پتـنگ تـه
بلبلانـو تـه ښکـاره سـي پـه نسـرين کښـي
نـور او نـار ئـې د جمـال جـلال اثـر دئ
قهـر مهـر ئـې پـه تـريخ او پـه شـيرين کښـي
پـه هـر څـه کښـي گـوره يـار عبـدالقادره !
کـه دې نسـته شـک گمـان پخپـل يقـين کښـي

(ص ۳۶)

**شیخ سعدی شیرازی دا د جمال د ننداري مینتوب پـه خـورا ښـه پیرایه اداء کړئ دئ چي ډېر عارفانه دئ او وایي :**

بجهان خرم ازانم که جهان خرم ازوست
عاشقم بر همه عالم که همه عالم ازوست
بحلاوت بخورم زهر که شاهد ساقیست
با رادت بکشم درد که درمانم ازوست

**عبدالقادر خان پر دغه لار له بلې خوا راځي، دی وایي، چي حب د ذات په انسان کښي لـه دې جهته فطري دئ، چـي د ذات خاوند او مالك خو جانان دئ، او منی ئې له دې جهته خوښ دئ چي پسرلی پسي راتلونکی دئ :**

زه چي هسي په خپل ځان باندي مین یم
د جانا ن دی په جانان باندي مین یم
د خزان مېوه بهار، د بهار دی دئ
تر بهاره په خزان باندي مین یم

**په دې ډول د عبدالقادر خان تخیل او تمثیل طبیعی دئ ځکه چي حب ذات د انسان په ختهـ اخښلی دی، او شاعرانه مبالغه نه پکښي ځائیږي، اما په تعطیل کښي ئې عبدالقادر خان ابتکار کړئ دئ :**

**حیرت :**

**حیرت د عرفان لوړ مقام دئ، هر څونه چي عارف لوړیږي، حیرت ئې ډیریږي ابن فارض مصري له ډیري مینې څخه په حیرت کښي ډوب وُ، (زدنی بفرط الحب فیک تحیراً).**

**خواجه حافظ د حیرت په مقام کښي له صومعی څخه میکدې ته ولاړ، چي گوندي د عرفان یوه بله وړانگه ورته وبریښي :**

سر ز حیرت بدر میکدها بر کردم
چون شناسای تو در صومعه یک پیر نبود

**مگر د حیرت په سیند کښي ډوب سو بس؟**

نشوی واقف یک نکته ز اسرار وجود
گر تو سر گشته شوی دائره دوران را

**خوشحال خان ختک هم د حیرت په بیدیا کښي ورک دئ، لکه چي وایي :**

چي و تورو خاورو هسي حسن ورکا
زه حیران پاتو په صنع د خالق یم

عبدالقادر خان دغه مسئله په يوه بيت کښي په خورا واضح او روښانه ډول داسي بيانوي، چې حيرت د معرفت سره سم دئ، هر څونی چي معرفت ډيريږي، هغوني حيرت زياتيږي :

تحير په موافق د معرفت دئ
څو ئې شناخت هومره ئې زياته حيراني ده
(ص ۲۰۴)

***راز او اسرار*** :

د عرفان په دنيا کښي ځني پټ رازنه او اسرار سته چي عارف ئې لـه ښکاره کولو څخه معذور دئ، هغه څوك چي په څه وپوهېده بيا ئـې ږغ نه راوخوت، حافظ وايي :

مصلحت نيست كه از پرده برون افتد راز
ور نه در مجلس رندان خبری نيست كه نيست

شيخ شهاب الدين عمر بن محمد سهروردی (رح) (۵۳۸ _ ۶۳۲ ه) چي د اسلام د لويو عارفانو څخـه دئ وايـي : چـي څـوك د حضـرت محبوب مخي ته لار پيدا کړي، بيا نسي راگرزېدای، او نـه څـه ويـلای سي، (ما رجع من رجع الامن الطريق و ما وصل اليه احد فرجـع (۱۹) )
شيخ سعدي شيراز دا د عرفان او تصوف مقام ته داسي راځی :

وگر سالکی محرم راز گشت
ببندند بروی در بانه گشت
کسی را درين بزمم ساغر دهند
که داروی ببهوشيش سر وهند

په دې ډول هغه څوك چي په څه وپوهېده بيا ئې حال را نغی :

كانرا كه خبر شد خبرش باز نيامد

عبدالقادر خان چي د عرفان د مقاماتو یو پوه سیاح او ګرزاند دئ په یوه بیت کښي دا ټوله اسمار بیانوي او د راز د دنیا څخه عارفانه ویل کوي :

نندارچیانو به ئې شرحه د مخ وکړه
تحیر ورته آواز د لا تقل کا

**رشتیا :**

د عرفان پر لار و صداقت او رښتیني میني ته عارف تر هر څه ډېر اړ دئ، مین د وصال کړه وړه او ګرانه لار د صدق په وزر طی کولای سي او صدق معشوق هم عاشق ګرزوي :

د عشق په کار کښي څوک صادق سي
د یار د مهر هاله لایق سي
دویی د دواړو له منځه ووزی
عاشق معشوق سي معشوق عاشق سي

(ص ۱۷۵)

**صنایع او بدایع :**

د عبدالقادرخان د کلام لمړی مزیت سادګی او سلاست دئ، دی په هر ځای کښي دغه ښېګړه ساتی، او په لطافت او عذوبت ښه مضمون آفرینی کوي، او د شعر او ادب د صنائعو او بدایعو په اداء کښي هم استاد دئ، یعنی په عین سادګی کښي خپل کلام د بلاغت د بدایعو په غمیو هم ښکلی کوي، د صنعت لپاره کلام نه مغلق کوي، او نه درانه او پیچیده مضامین سره غونډوي، په دې بیتو کښي ئې د طباق صنعت څه ښه اداء کړی دي :

چي ئې تللم په خندا خندا دیدن ته
اوس ئې درومم په ژړا ژړا مزارته

(ص ۱۸)

**یا دا** :

هر سحر سترگي د گل په اوښیو ډکي
په دا باغ کښي بې ژړلو خندا نسته

(ص ۹۳)

**په دې دوو لاندي بیتونو کښي تجنیس تام دئ :**

سل زخمه که وخوري تري به یو ځاځکي پرهنوزي
هسي رنگه وچه د صورت کا مینه وینه
خوب به ئې بدل په بیداري خوبښي په ویر سي
هر چه ئې په زړه کښي د دلبرو مینه وینه

**په دغه ډول ددې کلام له ډېرو بدائعو ډک دئ، د (۲۸) مخ په لمړي بدله، او د (۶۱) مخ په آخرینی بدله کښي صنعت د لزوم مالایلزم او تکرار د قافئې راغلي دي، علاوه پر دي عبدالقادرخان یوه اوږده نصیحت نامه د تجنیس په صنعت کښي ویلې ده، چي د سر یو څو بیتونه ئې مورږ ددې کتاب په (۲۲۶) مخ کښي راوړي دي له دغه ښکاره ده چي ده د بلاغت پر صنایعو پوره اقتدار درلود، او د شعر ټوله اقسام لکه : غزل، قصیده، مثنوي، مخمس، مربع، رباعی، او نور ئې ویلي دي.**

## ***حسن طلب :***

**په شاعري کښي د ویونکي د کمال او د شعر د پوخوالي یوه ښکاره نخښه هم دغه ده، چي په حسن طلب پوه وي، د پاړسو شعر مشهور**

**نقاد شبلي نعمانی، د خواجه حافظ د کلام یوه مخصوصه ښېګړه دغه ګڼي. (۲۰).**

**مثلاً خواجه خپل محبوب په دې انداز ځان ته راوغواړي :**

پروانه و شمع و گل و بلبل همه جمع اند
ای دوست بیا رحم به تنهای ما کن

**لسانی شیرازی بیا په دې ډول محبوب را غواړي :**

بیا که گریه من آنقدر زمین نگذاشت
که از فراق تو خاکی بسر توان کردن

**بیدل چي د شعر او ادب د میدان بریالی دئ، د محبوب په غوښتنه کښي نوی زمینه ځان ته مومي او داسي مضمون پیدا کوي :**

رنگ و بو جمع است در هر جا چمن دارد بهار
ما همه پیش توا یم ای جمله ما با ما بیا

**عبدالقادرخان د تخیل په دنیا کښي یوه د عیش او عشرت دنیا تصویر کوي، باران اوري، نری نسیم د سنبل ښاخلې ښوري، د عیش او مسرت ټوله عوامل په ګلستان کښي سره ټولوي، وروسته نو محبوب ته په داسي ژبه د راتګ ږغ کوي، چي د ادب او د مینې احترام هم پکښي دي، امر نه کوي، بلکي خپل د اشتیاق او انتظار اندازه مصوره کوي، چي دا ډول حسن طلب نو ډېر موثر او مفید او د شاعری کمال دئ :**

باران وورېږي څخواکي ثاخي
نسیم را والوت سنبل پرې ثاخي
اسباب د عیش واړه موجود دي
ساقي ته ګورو چي دی را پاخي

**(ص ۱۷۴)**

**شعر د عبدالقادر خان په نظر کښي :**

ارسطو د یونان نومیالی فیلسوف شاعري د فطرت محاکات او د طبیعت پیښي گڼي (۲۱) د فرانسې مشهور نقاد کوسین ویلي دي، چي د فطرت د محاسنو او ښکلو نخښو د ترجمانۍ او تصویر ذریعه شعر دئ، چي موږ د تخیل په قوت بیرته هغه طبیعي محاسن په شاعري سره تصویر او مجسم کوو (۲۲) د انگلستان یوه ډېر پیاوړي ادیب ورډ سوتهه په دې لنډه وینا د شاعرۍ تعریف ښه کړئ دئ، چي "شاعري د انسان د فطرت موقع ده." (۲۳)

عربو پر دې فن ښه نوم ایښي دئ، چي د شاعریت کلمه ئې ټوله خواوي په ځان کښي را جمع کوي، او پر دغه کلمه د شعر ټوله تعریفونه صادق دي، په نوي اصطلاح چي د شاعرۍ لوی ټوك فني طبیعت Artistic Nature گڼل سوي دئ، د شاعریت کلمه هم پوره پر دغه باندي حاوي ده، د عربو یو پوه محقق ابن سلام شعر هغه صنعت او ثقافت بولي، چي سترگي، غوږ، لاس، ژبه، او د انسان ټوله حیات او ژور د زړه مشاعر ئې زېږوي، (۲۴) او د علي جرجاني په عقیده ئې نقد ژور فکر، ښه کتنه، او تېنگه پلټنه او ارته پوهنه غواړي. (۲۵)

له دغو توضیحاتو څخه ښه ښکاره سوه، چي د انسان فطرت او د زړه منځ د شعر چینه ده، هغه ویل چي د زړه څخه راووزي، ډېر قیمت لري، او هغه شاعري چي احساسات او عواطف ئې محرك وي ډېر هیجان او دروند اثر بخښي !

ډېر اشعار او د صنعت په گڼه ښکلي نظمونه سته چي د هیجان او تاثر روح هیڅ نه لري، او ډېر ساده او بې تکلفه ویناوي دي، چي د سړي زړه ښوروي، او اوښکي ئې بهوي ... !

دا ولي ؟

سبب ئې فقط دغه دئ، چې لمړنی له زړه څخه راوتلي، او ويونکی خپل تپي او په وينو لړند زړه پخپلو خبرو کښي پټ کړئ وي مګر اوسترۍ خبري کورټ په تقليد وي، د زړه او عاطفې هيڅ کار نه وي ورسره.

د شيراز شيخ سعدي دا مسئله ښه روښانه کوي، هغه وخت چې وايي :

هر دل که پريشان شود از نال بلبل
در دامنش آويز که با وی اثری هست

عبدالقادرخان چې په زړه خوږمن يو سړی دئ، دده شاعري هم د زړه ږغ او د عواطفو او احساس ترجماني ده چې په دې بيت کښي دی د خپلي شاعرۍ تصوير په څه دردناک او موثر ډول کوي :

رنګينه شعر مي مه ګڼه خبري !
دا روان څما د زړه د وينو رود دئ

(ص ۱۱۹)

نو عبدالقادرخان چې شعر وايي له زړه څخه ئې وايي، که ليک کوي، د زړه په وينو ئې کوي، دی پخپل کلام، احساس او عاطفه او د زړه درد ننباسي او هغه فکر او ذوق پکښي پټوي چې د زړه په وينو اخښلي سوئ وي،

څکه نو موږ ده ته يو حساس او عاطفه لرونکی شاعر ويلای سو، نه نش مقلد او پيښه ګر !

## د عبدالقادرخان آثار او تاليفونه :

عبدالقادرخان لکه څنګه چې نوميالی او توريالی پلار د پښتو ژبي لوی موړلف او ليکونکی او نامتو اديب او شاعر دئ، دی علاوه پر نظم

په نثر کښي هم پیاوړی او غښتلی لاس لري، دلته به موږ لنډ دده آثار او تالیفونه وښیو :

## ۱. د اشعارو دیوان :

دغه دیوان چي اوس تاسي ته وړاندي کیږي دده د غزلیاتو او نورو اشعارو مجموعه ده، چي تقریباً درې نیم زرو بیتو ته رسیږي او د عشقي، عرفاني، اخلاقي، اجتماعي ویناوُ ځخه ډک دئ، غزلیات او رباعیات ئې مردف دي، د پای ټوک متفرقات دي.

## ۲. ګلدسته :

په دغه نامه عبدالقادرخان د شیخ سعدي شیرازی ګلستان کټ مټ په پښتو ترجمه کړئ دئ، په دې کتاب کښي ده د خپلي قریحې قوت او جلا ښه ښکاره کړې او په خورا ادبي قدرت ئې ترجمه کړئ دئ، لکه د حضرت سعدي ګلستان چي په پاړسو کښي فصیح او بلیغ دئ، ﺛغسي هم د عبدالقادرخان پښتو ترجمه په هغه ډول ادبي مزایا لري، ټوله منظومي ئې په نظم او په خوږه ژبه ترجمه کړي دي، ددې کتاب یوه برخه مسټر راورټي Raverty انګلیس په ګلشن روه کښي چاپ کړې ده.(۲۶)

## ۳. نصیحت نامه په تجنیس :

دا نصیحت نامه یو خوږ او سلیس مثنوي دئ، چي ټوله د تجنیس په صنعت ویل سوئ او عبدالقادرخپله استادي او د شعر کمال پکښي ښکاره کړئ دئ، افسوس چي ددې کتاب فقط د سر یو څو بیتونه موږ

ته رارسېدلي دي، چي ددې کتاب په (۲۲۶) مخ به ئې وګورئ نور کتاب ورک دئ.

## ۴. څلوېښت حديث :

دا يو کوچنی کتاب دئ، تر (۵۰۰) بيته پوري رسېږي، وروسته تر حمد ا وثنا د حضرت رسول (صلعم) څلوېښت صحيح حديثونه ئې په پښتو مثنوي ترجمه کړي دي دا کتاب ما ليدلئ دئ، دا څو بيتونه ئې د نمونې په ډول ليکم :

څکه ما څلوېښت حديثه په پښتو ژبه بيان کړه
پخپل ځان مي ګراني ګښيښود پښتنو ته مي آسان کړه
هوښيارانو دي ويلي هر چه دوې خبر ضم کا
هغه شخص به يو ځاځکی د ځګر د وينو کم کا
مؤمنانو ته بايده دی چي دا حديث په ياد کا
ګنهکار عبدالقادر دي په اخلاص په دعا ياد کا

## ۵. ادم خان او درخانۍ :

د پښتنو په ملی داستانو کښي دا قصه خورا شهرت لري، ددې ملي قصې پهلوانان دواړه يوسف زی دئ، آدم خان د حسن خان زوی ، او درخو (درخانۍ) د طاوس خان لور وه، دوی د مغولي اکبر پاچا په عصر کښي (۹۶۳ _ ۱۰۱۴ هـ) ژوندي وه (۲۷) دا دواړه مين خورا سوزناکه قصه لري، حماسي، عشقي ناري پکښي دي، د خوښۍ او وير جذبات يعني د کوميډي Comedie او تراژدي Tragedie مخصوص ځايونه او مواقع لري، دا قصه عبدالقادر خان ليکلې ده، مګر ماته نه ده معلومه چي نثر وه که نظم ځيني نيم منظوم مثالونه له دغي قصې څخه مستر

راوړتي د خپل پښتو ګرامر په مثالو کښي را نقل کړي دی. (۲۸)

دغسي هم مؤرخ الفنستن پخپل کتاب د کابل شخړه The Accont of Kabul کښي ددغي قصې ذکر کړئ دئ مګر افسوس چي دا کتاب هم ورک دئ.

## ۶. یوسف او زلیخا :

د یوسف او زلیخا قصه هم عبدالقادرخان تقریباً په څلور زره بیته په پښتو نظم کړې ده، په دې کتاب کښي دده ژبه خورا خوږه ده، او د کلام اعجاز ئې ښه ښکاره کړئ دئ، دغه کتاب د پښتو ادب له لمړیو او ښو آثارو څخه ګڼل کیږي، ددې کتاب په سر کښي داسي وایي :

دا قصه اول تازي وه — په تازی ئې آغازي وه
په فارسي کړه فارسیانو — نظم ، نثر، سخندانو
ما هم ښله تري حصه کړه — په پښتو مي دا قصه کړه
هر پښتو چي پر ناظر سي — په لوستو ئې خوږ خاطر سي
له معنا ئې خاطر ښاد که — مور دي هم په دعا یا دکه
په خفیف بحر ویلي — کل دقت څني وتلي
لکه بحرصفا صاف دئ — هر ګوهر پکښي شفاف دئ
چي خفیف بحر شیرین که — هغه کس سحر مبین که

ما شیرین بحر خفیف کړ
بې ځوابه مي حریف کړ

دا کتاب ده په (۱۱۱۲ ه) کښي پای ته رسولی دئ لکه چي وایي :

سن د هجر غین و قاف وُ
اته کم دپاسه کاف وُ

چې تمام سو دا کتاب
په پښتو سو انتخاب

مسټر راورتي انګلیس په ګلشن روه کښي د دغه کتاب یوه برخه هم چاپ کړې ده ددغه کتاب قلمي مصوري او مطلا خوشخطي نسخې کله کله لیدلي کیږي، او بیل هم چاپ سوي دي.

علاوه پر دغو کتابونو عبدالقادر خان نور پښتو قیمتي آثار هم لیکلي دي، چې اوس متاسفانه ورک دي، مسټر راورتي د "انتخاب شعر پښتو" په کتاب کښي وایي چې ده (۶۰) جلده کتابونه تالیف کړي دي، مګر اوس موږ ته تر دغو (۶) زیات نه دي معلوم. ګُندي وروستني پلټني او تحقیقات دغه ورکي مرغلري او قیمتي غمي ومومي، او د پښتو ژبي دا ګرانبها آثار له ورکتوبه وسائل سي.

**خاتمه :**

اوس موږ ددې مرحوم ادیب دغومره پېژنده ستاسي سره وکړه او دده د شعر دېوان مو هم در وړاندي کئ، هیله سته چې د پښتنو نور تحیقیقات او پلټني به دده له سوانحو او ادبي خدمتونو ښخه د پټي پېڅول واخلي، او پښتانه به دغه نومیالی ادیب تر دغه لا ښه معرفي کړي، زموږ خو دغومره د لاسه کېده چي و مو کړه.

**استدراک :**

د عبدالقادرخان په سوانحو کښي د کابل لیدنه او سفر هم سته له دې رباعي ښخه ښکاره کیږي چي کابل ئې هم لیدلئ دئ :

له خپل بخته و چاته زار کړو
د څرخ نا سازي و چاته شمار کړو

ډک دئ د کښلیو د کابل ښهر
هرمره څه نسته چي یو ترې یار کړو

(ص ۱۶۴)

(قندهار ، نوی ښار ۳ د زمری ۱۳۱۷)

## لمن لیکونه

۱. د خوشحال خان خټک کلیات ص ۹۵۱ د کندهار طبع
۲. د خوشحال خان د کورنۍ احوال او وقائع مو دده د کلیاتو په مقدمه کښي مفصل لیکلي دي، دلته ئې مکرر نه لیکو، محترم ویونکي دي هغه ته رجوع وکړي.
۳. وګورئ ددې دیوان ۲۱۱_ ۲۱۳ مخونه
۴. وګورئ ۳۴ مخ ددې کتاب.
۵. وګورئ ددې کتاب ۱۲۲ مخ.
۶. وګورئ د پادري هیوز مقدمه د کلید افغاني طبع ۱۸۹۳ ع پخپله رحمان وایي:

و دارا او اورنګزېب وته حیران یم
چي ئې څه چاري واقع سولې تر میان

۷. وګورئ ددې کتاب ۱۳۴ مخ.
۸. لکه شیخ مالی یوسف زی.
۹. مخزن الاسلام د اخوند درویزه وګورئ
۱۰. د مستر راورتي د پښتو ګرامر مقدمه د کلکتې طبع ۱۸۵۶ ع.
۱۱. جی ، ایچ راورتي.
۱۲. د اخوند دروزېزه له بیانه څخه ښکاره کیږي چي بازید بن عبدالله چي په پیر روښان مشهور وُ، پلار ئې اصلاً کندهاری وُ او دی د کاني کوړم په اورمړو کښي اوسېدی د هندوستان او بخارا او تورکستان سفرونه ئې کړي وه، او یوه فلسفي رویه ئې درلوده چي د تصوف د حلول خواته نژدې وه، زما په خیال

چي پير تاريک د هغي ډلـي د فلسـفې او نـيم مـذهبي افکـارو ځخـه اخيسـتنه کـړې وه، چـي د مصـر د الفـاطمي کورنـۍ پاچهان وه، او په ايران کښي د باطنيه او اسماعيلي او قرامطـه په نوم مشهور وې، ډېرو موړخينو او ابوريحان بيرونـي د کتـاب دالهند خاوند په (۴۲۴ ه) کښي د قرامطه وغلبه پر ملتان هم ليکلې ده چي وروسته نو د زين الاخبار گرديزي، او ابـن اثيـر او ابن خلدون په قول دغه ملا حده سـلطان محمـود غزنـوی له ملتانه ورک کړه، ددوی پر ملتـان يـوازی نـه وه، بلکـی د ناصر خسرو بدخشانی له تاليفاتو ځخه ښکاره ده چي ددوی اثر تر بدخشانه او ترکستانه رسېدلئ وې، او هـر ځـای ئـې پـه غـرو کښي پټ مراکز درلوده، چي د الموت کلا او د حسن صـباح تحريکونه ټوله تاريخونو ضبط کړيدي.

۱۳. وگورئ د پښتو شعر تاريخچه.

۱۴. د پښتو شعر تاريخچه ليک د حبيبي.

۱۵. د پښتو شعر تاريخچه ليک د حبيبي.

۱۶. لکه چي ميرزا خان قندهاری وايي :

بل حميد موشگاف دَ خيال په شعر
څه به وايم ناسفته دُر ئې پېيل

پيرمحمد کاکړ وايي :

پسله دويه موشگاف عبدالحميد دئ
چي ئې ووې ښه نازک نکته دان شعر

عبدالله پوپلزی وايي :

د حميد موښگاف و خيال ته هوښ کړه
گُندي سي ددَه په جذب تيز نظر

۱۷. ددې کتاب (۲۲۲) مخ وګورئ.
۱۸. وګورئ ددې مقدمې د عبدالقادرخان د معاصرینو تفصیل
۱۹. عوارف المعارف د سهروردي.
۲۰. شعر العجم ج ۵.
۲۱. وګورئ د ارسطو شعریات.
۲۲. د ډوکتور محی الدین روح تنقید.
۲۳. روح تنقید.
۲۴. طبقات الشعراء د ابن سلام.
۲۵. د علی بن عبدالعزیز جرجانی الوساطه ص (۱۶۲).
۲۶. طبع د هرتفرډ. ۱۸۶۰ ع.
۲۷. د پښتو شعر تاریخچه وګورئ په طلوع افغان کښې.
۲۸. طبع د کلکتې ۱۸۵۶ ع.
۲۹. د عبدالقادرخان خټک دیوان. د کندهار چاپ، ۱۳۱۷ کال.